

لوګر
ماهنامه
میاشتنۍ خپرونه
Logar monthly

یکشنبه د۱۳۹۷ کال د کب د میاشتې شپږویشتمه، د ۲۰۱۹ عیسوي کال دمارچ اولسمه ۴ پرله پسې ګڼه (۱۰۱) لومړۍ کال، لسمه ګڼه


# د(بهايي جان پيژندنه) ترسرليک لاندې يو ورځنی سمينار جوړ شو

دهيواد دنامتو، شاعر، صوفي او دنقشبنديه دطريقې لاروي سيدبهاء الدين چې په بهايي جان مشهور دی، يو ورځنی علمي او څيړنيز سمينار دلوګر داطلاعاتو او فرهنګ رياست په تالارکې جوړ شو، چې په دغه سمينار کې دلوګرداطلاعاتو او فرهنګ رييس محمد شفيق پوپل په ګډون دکار او ټولنيزو چارو رييس شاه محمد ولي زوی، دفرهنګ آمر جمعه الدين دراني، ليکوالانو، شاعرانو، دادب مينوالو او ځوانانو پکې برخه اخيستې وه.

په پيل کې دقرانکريم څو مبارک آيتونه تلاوت شول، ورپسې دهيواد ملي سرود وغږول شو. د ويناو په لړ کې اخترمحمد ژوندون د بهايي جان په ژوند، شعر او شاعري خبر وکړې او بهايي جان يې دهيواد دنوموتو شاعرانو، صوفيانو او دطريقت دمکتب يو ستر روحاني، عالم او استاد يادکړ.

ژوندون وويل، چې نه يوازې دبهايي جان په اشعارو کې علمي پلوشې ليدل کيږي، بلکې هره وينا يا شعر يې د ربښتينې مينې سوز او خوند ښوونکي پيغام لري، نوي نسل ته په ميراث پريښي.

دبهايي جان په افکارو او تصوف؛ استاد اتل مشوانی ګډونوالو ته مالومات وړاندې کړل، ده دتصوف ځانګړني او تصورات چې ځيني خلک يې ناسم درک کوي، په څرګند ډول دصوفي دکلمې په تړاو پوهاوی ورکړ.

همدارنګه د بهايي جان دتصوف او فکر په باب چې څنګه د ولس لپاره په شعرونو کې ځانګړې پيغام ته ځای ورکول او ترخلکو يې رسول په پوره ډول رڼايي واچوله.

داطلاعاتو او فرهنګ رييس محمد شفيق پوپل دبهايي جان دسمينار جوړونکو او همکارانو مننه وکړه، چې دفرهنګ دبډاينې په موخه داسې يو علمي او څيړنيز سمينار وړاندې کړاو په نورو فرهنګي ټولنو يې ټينګار وکړ، چې دهيواد په کچه دې د ورته شخصيتونو په کارنامو او برنامو سمينارونه جوړ کړي.



پوپل دبهايي جان په ژوند، افکارو او ادبي هڅو هم مالومات وړاندې کړ. زياته يې کړه، چې بهايي جان که زموږ په منځ کې شتون نه لري، نو بايد موږ دهغه آثار ولولو او په لارښونو يې سم عمل وکړو، ځکه بهايي جان نوي نسلونو ته دقلم له لارې ډير څه پريښي دي.

دکار او ټولنيزو چارو رييس شاه محمد ولي زوی هم د بهايي جان په اشعارو، افکارو او عقايدو خبرې وکړې او د نوموړي شاعري يې دفکرونو په جوړونه کې لويه لاسته راوړنه وبلله.

دسمينار دپای په شيبو کې دادب پالو او فرهنګ پالو له لوري مشاعره هم په لاره واچول شوه او په پای کې دبهايي جان مهالنۍ دويمه ګڼه چاپ شوې مجله په ګډونوالو وويشل شوه.

همدارنګه دلوګر داطلاعاتو او فرهنګ رياست رهبري پلاوي لخوا دبهايي جان دسمينار جوړونکو او مرستندويو ملګرو ته ستاينليکونه هم ورکړل.

ديادونې وړ ده، چې بهايي جان په ۱۲۷۲ هجري لمريز کال د زابل په غونډانو سيمه کې په يوه روحاني او علمي کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې او له هغه ځايه دلوګر ولايت څرخ ولسوالۍ ته را وکوچيد او په ياده ولسوالۍ کې ميشت شو او په ۱۳۵۱ هجري لمريز کال ددې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې، چې ۴۱ منظوم او منثور آثار ورځيني پاتې دي.

**شيرمحمدامينې ستانکزی**

# لـوګـر کې د فني او حرفوي زده کړو له مرکز نه ۱۵۰ تنه زده کوونکي فارغ شول

دسلواغې لسمه: په همدې تړاو د کار او ټولنيزو چارو په رياست کې غونډه نيول شوې وه، چې پکې د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي، ملي امنيت رييس بريد جنرال اميرجان ناصري، ولايتي شورا رييس حسيب الله ستانکزي، د يادې شورا منشي عدالت عبدالرحيمزي، د کار او ټولنيزو چارو رييس شاه محمد وليزوی او له ياد مرکز څخه فارغ شويو زده کوونکو برخه لرله.

د غونډې په لومړيو کې د لوګر ولايت د کار او ټولنيزو چارو رييس شاه محمد وليزوی ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ مسؤلينو ته يو لړ وړانديزونه وکړل، چې دوي ورته په ياده برخه کې اړتياوې لري.



ورپسې د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي فارغ شويو زده کوونکو ته مبارکي وويله او دوی ته يې د لاپرمختګ او هوساينې هيله وکړه. ده په فارغ شويو زده کوونکو غږ وکړ، چې زده کړه وکړئ هغه که په هره برخه کې وي. والي زياته کړه، ستاسې ښې او سالمې زده کړې يو ښه او سالمه ټولنه رامينځ ته کولای شي.

د يادونې وړ ده چې په فارغ شويو زده کوونکو کې ۱۰۰ تنه نارينه او ۵۰ تنه ښځينه زده کوونکي شاملې دي. دا په داسې حال کې ده، چې تر دې وړاندې هم د لوګر د فني او حرفوي زده کړو مرکز ګڼ شمېر زد کوونکي ټولنې ته وړاندې کړي دي.

# هفت قلم صنايع دستی به موزيم محلی لوگر اهداء شد

يکتن از باشندگان فرهنگ دوست ولايت لوگر محمد شاکر (اتل) مسکونه قريه کجی به منظور غنامندی موزيم محلی رياست اطلاعات و فرهنگ، هفت قلم صنايع دستی را به اين موزيم اهداء نمود.



رهبری و کارمندان رياست اطلاعات و فرهنگ از محترم محمد شاکر (اتل) اظهار سپاس و قدردانی نمودند و يک بار ديگر از تمام مردم شريف فرهنگ دوست اين ولايت خواهان همکاری به اين اداره شدند.

**محمد موسی (عديل)**

# برخی باشندگان لوگر، حمايت شانرا از نيروهای امنيتی ونظام کنونی اعلام نمودند

برخی باشندگان لوگر، به تاريخ 17 دلو طی گردهمايی وسيع در تالار شاروالی پل علم ازنظام کنونی اعلام حمايت نمودند و نيروهای امنيتی را مدافعين حقيقی مردم و کشور خواندند و افزودند که هيچگاهی به مردم اجازه نخواهند داد که نيروهای اردوی ملی را ازهم بپاشند، اشتراک کنندگان اين برنامه مخالفت جدی شانرا با ايجاد حکومت موقت نيزبيان نمودند.

دراين گردهمايی محمد انورخان اسحاقزی والی لوگر، محب الله صالح عضو شورای ولايتی، محمد شفيق پوپل رييس اطلاعات و فرهنگ، سمونوال محمد ابدالی قومندان امنيه لوگر، رييس امنيت ملی، روسای برخی ادارات دولتی، جوانان وبزرگان قومی اشتراک ورزيده بودند.

محمد انورخان اسحاق زی والی لوگر درجريان صحبت هايش خاطرنشان ساخت که صلح درکشور تامين خواهد شد و ما صلح را ميخواهيم که درآن منافع ملی وارزش های ملی ما پا برجا باشد، وی افزود که نظام کنونی نظام مشروع است که به خواست مردم به وجود آمده است ونيروهای اردوی ملی مدافعين حقيقی مردم ووطن است، آقای اسحاق زی ازهمه مردم خواست که به شکل متحدانه حرکت کنند وازنظام فعلی ونيروهای امنيتی حمايت کامل نمايند.

مولوی رحمت الله يکتن ازعالمان دين قربانی کشمکش ها وجنگ ها درکشور را افغان ها عنوان نمود وعلاوه کرد که ازمدت ها بدينسو شکار اهداف بيگانگان شده ايم، وی راه حل اين معضلات وکشمکش ها را دراتفاق ووحدت افغان ها قلمداد نمود.

محمد شفيق پوپل رييس اطلاعات و فرهنگ لوگر حمايت شانرا ازنظام کنونی ونيروهای امنيتی اعلام نمود وافزود که به رای خود رييس دولت کنونی را انتخاب کرده ايم وبالای بزرگان دولت اعتماد کامل داريم وی درجريان صحبت هايش به جنگ های دهه های قبل اشاره نمود وگفت که به هيچ صورت طرفدار ايجاد حکومت موقت



نمی باشند، آقای پوپل گفت که دراصلاح جامعه هرفرد مسئوليت دارد وبا اتفاق وظيفه ايمانی ووجدانی خودرا درحمايت ازنيروهای امنيتی اعلام کنيم.

رييس اطلاعات و فرهنگ افزود که قربانی جنگ های چندين دهه درکشور صرف افغان ها بوده است وبسيار مردم اين مرز وبوم رنجديده اند، وی ازهمه جهانيان خواست که درمعضلات افغانستان وپايان خونريزی ها تلاش نمايند تا صلح دايمی وسرتاسری مطابق به خواست همه مردم تامين شود.

همچنان درجريان برنامه محب الله صالح عضو شورای ولايتی، سيدرسول احمدزی يکتن ازمتنفذين، ويس احمد عبدالرحيم زی به نمايندگی ازجوانان وانجنير محمد کاظم ابراهيم زاده مديرعمومی امورجوانان لوگر پی هم صحبت نمودند وحمايت شانرا ازنظام فعلی ونيروهای امنيتی اعلام نمودند وهشدار دادند که به هيچ وجه طرفدار ايجاد حکومت موقت نيستند. **عديل**

# په لوګر کې د ښځو د اقتصادي ځواکمنۍ ملي پروګرام پيل شو

دکب څلورمه: په لوګر ولايت کې په اقتصادي برخه کې د ښځو د ځواکمن کولو ملي پروګرام پيل شو.

په هغې غونډه کې چې په همدې مناسبت د مسوولينو په شتون په دغه ولايت کې جوړه شوه؛ د لوګر والي محمد انورخان اسحاقزي دغه پروګرام د خلکو د اقتصادي پياوړتيا لپاره مهم او ارزښتناک ګام وباله او زياته يې کړه، چې دهېواد اقتصاد په وده کې د خلکو ګډون په اقتصادي لحاظ په ځان د ډډې لګولو په برخه کې يوه مهمه لاره ده.

اسحاقزي له مسوولينو څخه وغوښتل، چې په راتلوونکې کې دې د لوګر ولايت نورې ولسوالۍ هم ددغه پروګرام تر پوښښ لاندې ونيسي چې د کورنيو اقتصادي حالت ښه شي.

د لوګر ولايت د کليو دبيا جوړولو او پراختيا رييس عاشق الله اخلاصيار دښځو د اقتصادي ځواکمنۍ د پروګرام موخه د کورنيو د اقتصاد پياوړتيا وبلله او ويې ويل، چې دغه پروګرام لومړی دلوګر ولايت دمرکز او دخوښۍ ولسوالۍ ترپوښښ لاندې نيسي، چې په عملي کېدو سره به يې ښځې په اقتصادي برخه کې دپاملرنې وړ وده وکړي.

## درنو هيوادوالو!

**راځئ! همدا نن خپله زړورتيا دجګړو له لارې نه، بلکې دملي يوالي او وحدت له لارې ثابت کړو، چې موږ په خپل هيواد کې دتلپاتې سولې غوښتونکي يو او چاته نور اجازه ورنه کړو، چې زموږ په کورنيو چارو کې پټې اويا په ښکاره ډول لاسوهنې وکړي او زموږ ګران هيواد وران او ويجاړ کړي. بس ده! ډيرې تباهي او بربادۍ مو وليدلې، ډير تنکي او زلموټي ځوانان مو له لاسه ورکړل. بس دی! نورې مبارزې بايد ديو موټيوالي او يوالي لپاره وکړو، نور خپګان پر خوښيو او خوشحاليو بدل کړو .**


دامتياز خاوند: د اطلاعاتواوفرهنګ رياست
لوګر Logar
مسؤل مدير: شيرمحمد «اميني» ستانکزی ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸
کتونکې ډله: امين الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»
خبريال: محمد موسی «عديل»
ډيزاينر: سيدعبدالله «صديقی»
فيسبوک پاڼې: دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ رياست/ www.facebook.com
لوګرمياشتنی / www.facebook.com
يادونه: لوګرمياشتنۍ خپرونه دسرليکنې پرته؛ دليکوالانو دليکنو ننګه نه کوي اومسؤليت يې دليکوال پرغاړه ده.
که چيرې ليکنې لرئ چې په لوګرمياشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته يې را واستوئ.
داړيکې شميره: ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸
دبرښناليک پته: Shir.stanikzai2@gmail.com
چاپ ځای: آزادی مطبعه